DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال پنجم شماره ۱۱۸
شماره مسلسل ۷۴۶
یکشنبه ۲۵ ثور ۱۳۸۴ هـ ش
۷ ربیع الثانی ۱۴۲۶ هـ ق
15 May 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF PACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

هشدار سازمان ملل درباره افزایش تولید مواد مخدر

آنتونیو ماریا کوستا، رئیس آژانس مبارزه با مواد مخدر سازمان ملل متحد، گفته است مقامات افغانستان برای مبارزه با افزایش تولید هرویین در این کشور که در چند سال گذشته افزایش شدیدی داشته باید اقدامات جدی تری روی دست بگیرند

آقای ماریا کوستا از آنچه که تاکنون از سوی مقامات افغانستان برای مبارزه با مواد مخدر انجام داده شده است تقدیر کرده اما در عین حال گفته است که کشت خشخاش در بسیاری از مناطق این کشور هنوز ادامه دارد ص۴

دلاریو نو په پنځمه ورځ
په فراه، کندز، بغلان، اندراب، خنجان، نهرین او دهنه غوری کې مظاهري وشوې



د کندز ولایت د تخارستان په عالي لېسه کې په سلګونو شاګردانو او محصلینو د غویي پر ۲۴ مه د مظاهرو په پنځمه ورځ د یوه سوله ایز لاریون په ترڅ کې د هېواد په ځینو ولایتونو کې د مظاهره کوونکو وژنه او پر دولتي او غیر دولتي دفترونو بریدونه وغندل.

خو دوی د هغو کسانو د محاکمې غوښتنه هم کوله چې د ګوانتنامو په زندان کې یې د قران عظیم الشان بې حرمتي کړې ده.

دغه مظاهره له دې امله د نومورې لیسې په انګړ کې ترسره شوه چې پولیسو د کندز په ښار کې د ورانکاری، د مخنیوی په خاطر، پر مظاهرو بندیز لګولی دی ۴مخ

د یعقوبیو ولسوالی، ودانی وسوزول شوه

خو تنو نامعلو موسله والو خوست ولایت د یعقوبیو د ولسوالی د ولسوال دفتر، د امنیې قوماندانی یو پیک اپ موټر او دوه موټر سایکلونه د غویي پر ۲۴ مه شپه د یوه برید په ترڅ کې وسوځول ۴مخ

سرمقاله

تخریبي لاسونو مظاهري دغان په کتې وخرخولې

دپرونی واکمنی په رنګیدو سره نه یوازې دا چې دواکمنی دتینګښت په خاطر رامنځته شوې بندیزونه لیرې شول او طالبانو په کمین کې کیناستل بلکې دهغو له ویرې تللو قوماندانانو هم له لاسه وتلی څوکی په غنیمت سره دسترکو په رپ کې ونیولی او زیات یې تر اوسه پورې دهیوادوالو له انتقادونو سره سره په میراثی توګه په خپلو څوکیو کې پاتې شوی دی او تراوسه پورې یې دپرون په څیر له خلکو جلا والی رامنځته کړی دی.

په هیواد کې د زیاتو نسبی بریاوو ترڅنګ یوه بریا دا رامنځته شوه چې په اساسی قانون کې دبیان ازادی او دمظاهرو کولو ته ددموکراسی داصولو په چوکاټ کې اجازه ورکړل شوه. خوله دغو ازادیوڅخه په استفاده تخریبی عناصرو وکړای شول چې زمونږ دخوانانو له احساساتو څخه چې دهیواد او خلکو په وړاندې درونده مسوولیت په غاړه لري. پوره استفاده وکړي. ۴مخ

عایدسالانه وزارت مخابرات به پنجاه ملیون دالر خواهد رسید

وزیر مخابرات اعلام نمود که در سال قبل مبلغ ۱۴ میلیون دالر امریکایی از عواید سالانه مخابرات به دولت پرداخته. و تاپنج سال آینده این عواید سالانه به ۵۰ میلون دالر خواهد رسید امیر زی سنګین وزیر مخابرات ضمن کنفرانسی تحت نام «رقابت آزاد در بخش مخابرات افغانستان» که در اتاق های تجارت بین المللی افغانستان. در (کابل) به راه انداخته شده بود گفت که این عواید سالانه شرکت های خصوصی و دیجیتل دولت می باشد. ص۴

غلو په رنا ورځ یو تن ووژه

دکابل ښار د تایمنیو په سیمه کې په رنا ورځ څلور وسله وال غلې په یوه کورننوتل او دکوردمالک له وژلو وروسته په تېښته بریالي شول.

داغله ماسپښین یو ه نیمه بجه د ۳۵ کلن داؤد کورته ننوتل. دنومورې مقاومت دهغه دمال د لوټولو دمخنیوي سبب شو. خوسر یې بایلود.

داؤد چې دوه کوچني بچیان ترې پاتې شول. دکابل په چنداولو کې دوکان درلود.

دا پېښه دپولیسو دخلورمې حوزې په سل متری کې رامنځ ته شوه.

د حیدر دوکاندار په نوم دداؤد یو ګاونډی چې پېښه یې په سترګو لیدلې پژواک خبري آژانس ته ویلي چې دې غلو پلنګي جمپرونه اغوستي وو او په یوه شخصي سراچه موټر کې راغلي وو.

نومورې داهم وویل چې پولیس سیمې ته په خپل وخت ونه رسېدل.

د دې حوزې دکشف، امر عنایت الله دپېښې په اړه دمعلو ماتوله ورکولو څخه ډډه وکړه خو زیاته یې کړه چې څېرنې یې پیل کړي دي

دوه پلي غله ونیول شول

دکا بل پولیسو ددغه ښارد نهمې حوزې په مربوطاتو کې د غویي په ۲۴ مه شپه د غلو ماشومانو یوه دري کسیزه ډله د غلا په حالت کې ونیوله. ۴مخ

توزیع پاسپورت ازسر گرفته شد

ریاست پاسپورت پس از سه روز وقفه سر از روز ۲۴ ثور روزانه ۲۵۰ جلد پاسپورت را برای مراجعین مرکز و ولایات کشور توزیع می نماید. ص۴

بیجای تذکره
کارت شناسایی کمپیوتری توزیع خواهد شد

مقامات وزارت داخله میگویند. به خاطر جلوگیری از جعل تذکره های تابعیت. تصمیم دارند که در صورت دریافت بودجه. به عوض تذکره کارت های کمپیوتری جدید برای اتباع کشور توزیع نمایند میرعبدالرحمن معقول رئیس عمومی بررسی امورخارجیان و ثبت احوال نفوس وزارت داخله. به اژانس خبری پژواک گفته است که برای این پروژه حدود ۵۰ میلیون دالر امریکایی ضرورت است. به گفته وی درصورتیکه مشکلات بودجه حل شود. درمدت سه سال تمام اتباع کشور دارای کارت شناسایی که امکان جعل کاری در آن وجود نخواهد داشت. میشوند ص۴

کابینې دریل ګاډي دپټلی ننګه وکړه

دفواید عامې وزارت چار واکي وایي چې کابینې داورګاډي دپټلی غځولو دطرحې، دهغې داقتصادي ځېرنې او په دې اړه دنړیوالو مرستو دترلاسه کولو دوړاندیز ننګه کړې ده خو د سرکال (۱۳۸۴) په بودیجه کې ورته پیسې نه دي ېلپل شوي ۴مخ

مساعدت بسکیت به معارف
با اجرای سرکس آغاز خواهد شد

هنرمندان مشهور سرزمین هند، مساعدت بیست و پنج و نیم متریک تن بسکیت مقوی را به اطفال مکاتب افغانستان، در کابل با اجرای سرکس آغاز میکند. قرار معلومات دفتر پروگرام غذایی جهان در کابل، این کنسرت که در آن اطفال افغان نیز رول بازی خواهند کرد، به تاریخ ۲۲ ثور در لیسه عاشقان و عارفان، در کابل آغاز خواهد شد ص۴

آفتاب در تبعید منتشر شد

هفته نامه "آفتاب در تبعید"، به تازگی در کشور کانادا منتشر شده است.

مدیر مسئول این هفته نامه، میرحسین مهدوی است که از دو سال پیش در کانادا به سر می برد.

او هفته نامه انتقادی آفتاب را در کابل منتشر می کرد.

آقای مهدوی در ستون سخن اول هفته نامه آفتاب در تبعید، نوشته است ص۴

دو کمپنی دیگر نیز جواز فعالیت دریافت مینمایند

۲۵ ثور سال جاری روز بین المللی تیلیسی کمونکیشن از طرف وزارت مخابرات طی گردهمایی تجلیل میگردد خبرنگار روزنامه اراده با وزیر وزارت مخابرات مصاحبه یی انجام داده به نشرسپرده میشود.

س: باایجاد سکتور خصوصی در بخش مخابرات خصوصاً توزیع جوازهای جدید چه سهولت ها برای هموطنان ما فراهم خواهد آمد؟

ج: قبلا دو جواز غرض عرضه خدمات موبایل به دو شرکت تقریباً سه سال قبل صادر گردید و وزارت مخابرات درنظر دارد تا جوازهای جدید را در جریان سال ۲۰۰۵ توزیع نماید تا مطابق به پروگرام پیشبینی شده تاریخ ۱۵ جنوری سال ۲۰۰۶ به فعالیت آغاز نمائید.

هدف از توزیع جوازهای جدید عبارت اند از:

۱ - ایجاد رقابت آزاد بین کمپنی ها.

۲ - زمینه سازی برای انتخاب تکنالوژی جدید.

۳ - بالا بردن کیفیت خدمات.

۴ - بالا بردن عواید دولتی.

۵ - ایجاد سهولت های لازم.

۶ - ایجاد شغل و حرفه های جدید.

۷ - جذب سرمایه گذاری جدید.

۸ - پائین آوردن نرخ ها.

۹ - گسترش و انکشاف ساحه خدمات در سراسر کشور.

۱۰ - زمینه بازسازی بیشتر خدمات.

با فعالیت چار کمپنی موبایل علاوه از تحقق اهداف فوق رقابت سالم در ساحه عرضه خدمات بمیان میآید که خود سبب بهتر شدن خدمات میگردد زیرا هر کمپنی سعی مینماید تا کیفیت خدمات مخابراتی خود را به نحو بهتر و باکیفیت خوبترعرضه نماید.

بر علاوه بورد مقرراتی توسط وزارت مخابرات ایجاد گردیده تا در قسمت تنظیم و نظارت امور مخابراتی همت گمارد.

س: هموطنان ما از مصارف گزاف مبایل و مصرف ناحق یونت های تیلفونها شکایاتي دارند وزارت مخابرات به حل این پرابلم تا چه اندازه بالای کمپنی های موجود موبایل کنترول و مراقبت دارد؟

ج: از دید بورد مقرراتی دو کمپنی در عرضه خدمات مخابراتی شان مشکلات پرابلم های دارند و وقتاً فوقتاً شکایت های مشترکین را بدست آورده و جریان موضوع را غرض رفع پرابلم های موجود به کمپنی های محول نموده که متأسفانه شکایات مردم تا کنون رفع نگردیده ، برای رسیدگی بهتر به این شکایات اداره بورد مقرراتی تلاش نموده تا با در نظر داشت معیارها و نورم های ملی و بین المللی نارسایی ها و پرابلم ها را ارزیابی و اندازه گیری نموده و به آن رسیدگی جدی نماید چنانچه درین اواخر بورد مقرراتی موفق شده تا چند پایه دستگاه اندازه گیری کیفیت خدمات را خریداری و با استفاده از آن تمام پارامیتر ها وشاخص های را که کیفیت خدمات را نشان میدهد اندازه گیری نماید که خوشبختانه دستگاه ها های مذکور اخیراً خریداری گردیده و تیم کاری که امور عملیات و فعالیت وسایل مذکور را به عهده داشته باشد توسط یک نفر متخصص مجرب خارجی تحت تربیه قرار گرفته که امیدواریم در روزهای نزدیک تیم مذکور کاملاً آماده گردیده و امور اندازه گیری و دریافت کیفیت خدمات را به حسن صورت تحت اجراء قرار دهد.

نابلد

نگرانی در باره بازگشت حکمتیار و ملا محمد عمر!

به نظر من بازگشت اینها اشکال ندارد اما مسئولین باید از اینها قول بگیرند که دیگرهیچگونه شورش و یا بی انضباطی به راه نیاندازند.

محمد ازهر اسلمی

مردم دوست ندارند تجربیات تلخ گذشته را دوباره تجربه نمایند. آیا از یاد دولت خصوصا آقای کرزی رفته است؟ آوردن ملا عمر و گلبدین یک خیانت آشکار است. دیدگاه آقای مجددی منحصر به فرد است زیرا تصمیم به این مهمی از توان ایشان بالاتر است و صرف پارلمان کشور می تواند در مورد تصمیم بگیرد. البته نظرخواهی از مردم هم شرط اساسی خواهد بود. منطق این را حکم می! کند که قبل از مشوره اعلام این موضوع مشروعیت نظام را زیر سوال خواهد برد. بنده به عنوان یک محصل افغان ازدولت افغانستان درخواست دارم که جنایت کاران جنگی در هر پست و مقامی که باشند ودرهر لباسی که باشند از جمله ملا محمد عمر و گلبدین حکمتیار باید محاکمه شوند چون دست اینها به خون هزاران انسان بی گناه آلوه است. والا نباید دم ازعدالت و دمکراسی درافغانستان زد. به نظر من دعوت مجددی ازطرف شخص ایشان نیست بلکه تمنیات دیگران است. از طرف دیگر با به اجرا گذاشتن چنین مانوری آقای کرزی میخواهد که حلقه رهبری گروه طالبان و حزب اسلامی را از هم بپاشد.

عبدالودود امانی - هرات

حکمتیار و ملاعمر باعث کشته شدن هزارها انسان درافغانستان شده است.این ها حق اشتراک در حکومت را ندارند. جنایتکاران از مردم نمایندگی کرده نمیتوانند.

فضل الدین - جوزجان

تمام افغانها با هم برادر هستند و ما خواهان آسایش و آرامی در کشورمان هستیم اما کسانیکه در خرابی افغانستان نقش کلیدی داشتند دعوت از ایشان اندکی تامل میخواهد. دیدگاه مردم و پارلمان کشور در مورد شرط اساسی خواهد بود.

امان الله شمس - دوبی

ما هرگز به برگشت جنگ سالاران موافق نیستم وما خواهان محاکمه آنها هستیم.

محمد علی رجائی - قم

این یک مسئله واضح و هویداست که حکمتیار و ملاعمر اساسی ترین و قویترین افراد القاعده می باشند و همچنان اینها از مقربین دولت آمریکا بودند و حالا هم بشکلی شاید باشد. وقتیکه طالبان به کشتارهای مردم و قتل عام ها دست میزد و ویرانی میکرد آقای مجددی کجا بود که از آنها بخواهد که از کشتار جمعی و قتل عام دست بردارند که حالا از حرفهای نو و تقلیدی مثل دوکتورین نوین آقای قانونی حرف میزند. آیا اینها واقعا جنایت کارنیستند؟ اگر هستند پس همکاری همدلی با جنایت کار هم جنایت نیست؟ ما به این کارنداریم که آنها علیه آمریکا و غربیها در جنگند اما به این کار داریم که چرا به ملت افغانستان جنایت کردند؟

عبدالله دهزاد کابل

معلومات انتخاباتی
د انتخاباتو معلومات
کاندید شدن فرصتی است
برای سهم گیری
در تعیین آینده کشور!
نامزدي کاندیدان برای انتخابات ولسی جرگه
و شوراهای ولایتی سال ۱۳۸٤ از تاریخ
۱۰ ثور الی ۲۹ ثور سال روان صورت میگیرد.
برای نامزدشدن بحیث کاندید، درخواست های
تانرا به شعبه نامزدی واقع در دفاتر ولایتی
انتخابات دارالانشای
دفتر مشترک تنظیم انتخابات بسپارید.
کاندیدېدل، د هېواد د
سرنوشت په ټاکلو کې د
برخې اخیستلو موقع!
د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګې او د ولایتي
شوراګانو د ټاکنو لپاره د کاندیدانو نومونه د
غویي د میاشتې له ۱۰مې نېټې څخه تر
۲۹ مې نېټې پورې ترسره کېږي.
د کاندیدانو د نومونې لپاره د غوښتنلیک پانې
د نومونې له دفتر څخه، چې د انتخاباتو د تنظیم
د ګډ دفتر د دارالانشاء په ولایتي دفتر کې
موقعیت لري، ترلاسه کړئ.

دمظاهرو په نوم تخریبی فعالیتونه او دهیوادوالو نظریې

هغه له خشونت او زور زیاتی څخه ډکه مظاهره چې دتیرې چارشنبې په ورځ دننګرهار پوهنتون دطب دپوهنځی دمحصلینو له خواد سهار د ۹ بجو په شاو خوا کې پیل شوه د ۴ تنو په مرګ او له ۷۰ څخه دزیاتو مظاهره چیانو په ژوبله بدله شوه. له علایموځخه داسې ښکاریده چې مظاهره له پخوا څخه پلان شوی او سازمان دهی شوې وه. مظاهره چې دطب له پوهنځی څخه داطلاعاتو او کلتور ریاست په لوری په حرکت کې وه په لومړی شیبه کې دننګرهار دلیسې شاګردان ورسره یوځای شول شیبه په شیبه دکانداران، ښار ته راغلی عوام خلك او سیالبین هم ورسره یو ځای کیدل او تخریبی اغیزې یې له کلتور څخه نیولې ان چارراهی مرستون پورې ورسیدلې

دغه مظاهره د ګوانتانامو په امریکایی زندان کې دنیوز ویك مجلې په وینا قران کریم ته دسپکاوی په مقابل کې دعکس العمل اوغږ اوچتولو په نامه پیل شوه خو د دولتی ودانیو کتابخانو او خیریه موسسو په سوځولو او چور چپاول باندې تمامه شوه.

تخریبی فعالیتونه یې څکه سرته ورسول چې امنیتی ځواکونو لومړی دفاع ونه کړه او هوایی ډزې یې کولې خو وروسته چې لاحالات خرابیدل دفاعی ځواکونو یې مخه ونیوله خو تر یوې نیمې بجې یې دوام وکړ. د ارادې ورځپاڼې خبریال دنوموړی مظاهرې دجریان په هکله دجلال آباد ښار له ځینو عینی شاهدانو سره مرکې کړې چې دګرانو لوستونکو پاملرنه ورته را اړوو.

دچکنوریو دلیسې مدیر مطیع الله متوکل:

د چارشنبې په ورځ مظاهره دیوشمیر مخربو عناصرو له خوا مخکې له مخکې پلان شوې وه او سازمان شوې وه خلك وایي چې په مظاهره کې د مخالفوتخریبی ګوندونو ګډ شوی وو د کلتور وزارت سوځولی و داملوکو په تول کې به مې موټر تللای وای که څه هم ښیښې خو یې ماتې شوې



دپوهنتون روغتون دوینې دبانك داکټر الحاج تورحضرتي وایي:

دا ټوله ددولت ګناه ده دولت خپل مخالفین په ځان کې را دننه کړل یو شمیر یې له دولت سره جنګیږي او یو شمیرې ددولت په غیږ کې دی داسې له خشونت څخه ډکو مظاهرو ته دوام ورکوی دا یې نتیجه شوه دا څنګه کیدای شي چې ددومره پولیسو په شته والی کې دومره ورانی وشي؟ زه نه پوهیږم چې اصلاً دیوه پهره دار وظیفه څه ده چې یو څوك راځی موټرونو او دفترونو ته اور اچوی اوپولیس صاحب هوایی ډزې کوي

که دا ملی پوځ راغلی نه وای او مداخله یې کړی نه وای نو څه به جوړ شوی وای؟ زه دا عمل غندم باید دمحصلینو هڅوونکی اوپلان ورکوونکی باید ولټول شي او یوه سمه تصفیه په کې وشي دا یو اګاهانه عمل و له پخوا څخه پلان شوی عمل و او کیدای شي چې مسوولین هم پرې خبر وي خو اوس ځان نشي ښکارولی.

دننګرهار په نجم الجهاد د فامیلیو یو تن ملاتیك وایي:

دا خو مظاهره نه وه بس یوه حمله وه یو بریدو دولت یې کمزوری لیدلی و سترګې یې تړې نه سوځیدې.

زما په نظر په دې مظاهره ځلور ډوله خلك وو یو هغه چې یوازې شعارونه به یې ورکول. دویم هغه چې دسوځولو او تخریب او ورانکاری په فکر کې ورګډ شوی وو. دریمه هغه چې دچور لپاره راغلی وو او یایې زما نوم احمد شاه هنریار وو.

تاسو سره له جلال آباد نه خبرې کوم.

- مهربانی وکی

- وروره ستاسو به بیګا اوریدلی وی چې دخلکو دښمنانو دمحصلینو له مظاهرې څخه استفاده وکړه ددې یو وخت په انتظار وو دوی په ظاهره په ګوانتانامو کې دیو قرآن کریم دسپکاوی دغندلو په ځای په لس ګونو قرآن شریفونه او تفسیرونه چې ډیر نایابه وو دکلتور په کتابخانه کې ووسوځول ددغو قرآن کریمونو دسوځولو پرخلاف به اوس کوم مسلمان غږ پورته کړی موږ دلوی ننګرهار دتیاتر کمیتې تول غړی دا ناوړه او شرمیدلی عمل چې ورانول او سوځول په کې وو په کلکه غندو له دولت او په تیره دننګرهار له استخباراتی مسوولینو څخه هیله لرو چې په دې ورانی کې مسوول او مجرم اشخاص پیدا او د قانون منګولو ته یې وسپاري.

په چارراهی کې دنهم تولګی یو زده کوونکی سید ناصر وایی:

مظاهره کې هر څوك ورسره یو ځای کیدل یو څو کسه په سرکې روان وو چې دیو سړی په کور یې زړه وو چې داخل شي چې اور وارچوی هغې ښځې ورته قرآن شریف ونیوو چې دا موسسه نه ده زموږکور دی.

بیا هغوی دښځو دحقوقو دفتر ته لاړل هلته یې کتابونو ته اور واچولو کتابونو ته یې نه کتل را اخیستل یې او په اور کې یې وراچول نړدې و چې قرآن شریف ور واچوی ماژر قرآن شریف په غیږ کې ونیو اوه دانې نور هم خلکو واخیستل چې و نه سوځی ما هم قرآن شریف ځان سره واخیست پوښې مې ورکړو داسې خلك وو چې هرڅه یې اور ته اچول ډانګی هم ورسره وو.

دطب دپوهنځي محصل محمد امین افګار وایي:

اصلاً زموږ محصلینو دا هدف نه و چې مظاهره په خشونت بدله شي موږ صرف خپل غږ پورته کولو هغه داسې شول چې نور خلك غله او لوچك په کې راګډ شول زموږ له کنترول څخه ووتل موږ به دچا مخه نیوله دښار په بیلابیلو برخو کې یې موسسو ته اور واچولو نو په دې تولو کې خو محصلین نه وو نور عوام په کې ورګډ شول عوامو سره عقده وه.

دکاندار جلال الدین وایي:

زما په نظر دوه علتونه وو. یو دا چې خلك بیکاره دی وږی دی داسې ګډوډی له خدایه غواړی هغوی دغلا او چور په خاطر ورته ځان رسولو او ځینې په دې عقیده وو چې افغانستان کې موسسو ټوله سرمایه په خپل جیب کې واچوله عقده یې ورسره لرله سایبه ما په خپلو غوږو اوریدل چې ځینو به ویل واچوی ورته اور دوی کارنه کوی ټول پیسې یې په خپلو جیبونو کې واچولې وی سوځوی. او ډیرو په همدې مظاهرو کې ځان سره تیل هم راوړی وو لږ به یې په موټر واچول اور به یې ورته کړ.

محمد حنیف قصاب وایي:

وروره دا خپله ددولت کمزوری ده چې یو څوك یودښمن راشی موټر سوځوی تعمیر سوځوی اوعسکر ورته ګوري یا هوایی ډزې کوی دا غلطه خبره ده چې وایی زور یې نه رسیدو د اردو څنګه زور ورسیده چې سرې مرمۍ یې له غوږو تیرې شوی نه بیا مظاهرې ولاولیدل شو او نه دا اور لګولو والا او نه دی سیل والا. خبره داده چې خپلو پولیسو اوپهره دارانو بی غیرتی وکړه که زموږ دپولیسو همدا غیرت وی یو ورځ به بله په بل وخت هم ګډوډی وګوري دا خو یې ددوی ایمان معلوم کړو او خپله زور ارزیابی یې وکړه. یوبل ورسره نفر وویل: یو وخت مې دننګرهار دکتابتون لست ترتیب کاوه نوپه هغې کې مې په لسونو قرآن شریفونه او تفسیرونه ولیدل چې په ښار کې نشته ان داسې تفسیرونه هم چې تر ۳۱ جلدو زیات وو فکر کوم چې تول به سوځیدلی وی.

له جلال آباد څخه محمد ابراهیم په یو تیلفوني رابطه کې وویل:

په دغه مظاهره کې چې له خشونت ډکه وه هم دطالبانو پلویانو وو او هم داوسنیو چارواکو مخالفین چې تل یې ددوی داعمالو او خپل ځان لپاره دخدمتونو په هکله اعتراضونه وړاندې کړی خو دولت یې مخه ونه نیوله او تبدیل یې نه کړل.

دجاوید په نامه له جلال آباد ښار څخه دتیلفون په لیکه د ارادې ورځپاڼې له دفتر سره په تیلفون کې وویل: دا مظاهره څکه په خشونت بدله شوه چې خلکو له دولتی چارواکو او موسسو څخه ښه خاطره نه درلوده. دولت نه دموسسو مخه ونیوه اونه یې چارواکی بدل کړل څکه په مظاهره کې خلکو دامریکایانو پرخلاف دشعارونو ورکولو تر څنګ دا شعارونه هم ورکول چې حاجی دین محمد مرده باد او حاجی حضرت علی مرده باد.

دا خو دخلکو نظرونه وو چې دننګرهار په ولایت کې دمظاهرې په ارتباط وړاندې شول که چیرې دولت ددې مظاهرې هڅوونکی معلوم اوپه سزا ونه رسوی ددې امکانات هم شته چې لاتورو مظاهرو او تخریب ته د دولت په دننه کې سازمان ورکړي.





لاس ومظاهر سوله امیزه پیل کتابخانه یې وسوځوله قران خو لږ شیبه وروسته په شریفونه هم په کې وسوځیدل

توزیع پاسپورت...

پاسوال خلیل امین زاده رئیس دفتر پاسپورت ، علت این وقفه را ازدیاد درخواست کننده گان و نبود پاسپورت کافي خواند .

وي افزود : ((یکماه پیش در حدود ۷۰۰۰ جلد پاسپورت از آنها گرفتیم که ۳۰۰۰ آنرا توزیع کردیم و متباقي ۴۰۰۰ آنرا روزانه توزیع مي‌نماییم .))

عزیز شمس سخنگوي وزارت مالیه ،با تائید ادعاي امین زاده اظهار داشت که به دلیل عدم تصفیه حسابات، براي شان پاسپورت داده نشده است . اما داد محمد رسأ مسئوول دفتر مطبوعاتي وزارت داخله علت وقفه را تفتیش و بررسي این ریاست خواند . به گفته اوکار این ریاست با اساس هدایت وزیرامور داخله برای سه روز متوقف شده بود .

این وقفه براي شماري ازمردم که غرض در یافت پاسپورت به این ریاست مراجعه نموده بودند مشکلا تی را ایجاد نموده بود .

پژواک

هشدار سازمان ملل...

او این سخنان را پس از دیدارش با جنرال پرویز مشرف، رئیس جمهور پاکستان، اظهار کرده است.

رئیس آژانس مبارزه با مواد مخدر سازمان ملل متحد، هشدار دادکه قاچاق مواد مخدر از افغانستان به پاکستان ممکن است افزایش پیدا کند که به گفته آقای ماریا موستا در مبارزه پاکستان با مواد مخدر در این کشور مشکلات جدی ببار خواهد آورد.

در همین حال رئیس جمهور حامد کرزی، در سخنانی در بروکسل، پایتخت بلژیک، اظهار امیدواری کرده است تولید تریاک در سال جاری تا ۳۰ درصد کاهش را نشان دهد.

بر اساس گزارشها سال گذشته افغانستان بیش از ۴۰۰۰ تن تولید تریاک داشته است که این مقدار به معنی تقریبا ۸۷ درصد تمامی تولید غیرقانونی این مادهٔ در جهان است.

دلاریونونو په پنځمه ورځ ...

دغه راز په کندز ، فراه، اندراب نهرین او دهنه غوری کیګ مظاهری شوی دي .د ننګرهار ، غزني، وردګو او بدخشان په ولایتونو کي د تیروخوورځو مظاهرو په ترڅ کي کابو ۱۴ تنه مړه او تر سلو ځخه زیات کسان ټپیان شوي دي

یو تن مظاهره کوونکي عبدالرحمن وویل: «ما خواهان محاکمه کسانی هستیم که در گوانتانامو به قرآنکریم توهین نموده اند و در پهلوی آن ما خواهان محاکمه آنعده کسانی هم میباشیم که در مظاهرات جلال اباد ، بدخشان و غزني ، باعث قتل و کشتار برادران هموطن ما گردیده اند »

دده پر وینا دوی سوله ییزي مظاهري غواړي

او د مظاهري یو تن بل ګډون کوونکی چې د تخارستان مدرسي پورې اړوند نه و ، خرګنده کړه : «ما قبلاً از این مظاهره آګاهی داشتیم و دیروز در صحن چمن شهر کندز از بعضی شنیدیم که خود را در صورت مظاهره احتمالی در شهر ، برای چور و چپاول دکانها آماده میساختند»

د کندز د امنیې قوماندانی د امنیت آمر مل پاسوال محمدرزاق ووویل چې دوی له دې امله مظاهره کوونکو ته ښار ته د وتلو اجازه نه ده ورکړي چې ددوی په منځ کې ځینې ورانکاران شته اوددې ګومان کیده چې دوی په ورانکارو اعمالو لاس پورې کړي. پژواک

بجاي تذکره، کارت شناسایی ...

معقول مي ګوید که ، در کارت هاي جدید اسم ، ولد ، نشان انګشت ،عکس ،ګروپ خون و یک نمبرمسلسل تبعه کشور شامل میباشد و بقیه جزئیات در فورمي که دروقت توزیع کارت مذکور خانه پُري وثبت کمپیوترمیشود موجود خواهد بود .قرار معلومات وي این ، مسئله را درسال ۱۳۸۳به وزارت مالیه وریاست دولت پیشنهاد نمود ه اند که بعد از هدایت ریاست دولت وزارت مالیه دوباره وعده پرداخت بودجه را در سال ۱۳۸۴ نموده است .به گفته موصوف کار بالاي این پروژه در اواخر سال ۱۳۸۱ شروع شده بود ولي نسبت نبودن بود جه به تعویق افتاد. قرار معلو مات اقای معقول ، نظر به قانون ثبت احوال نفوس ، باید درهر ۱۰ سال تذکره عمومي تجدید شود، اما نسبت مشکلات و نا امني ها در کشور این برنامه عملي نه ګردیده است . به گفته موصوف دراین مدت شماري از مردمان استفاده جو تذکره ها و اسناد جعلي را ساخته و از آن طریق کارهاي غیر قانوني منجمله خریدفروش منازل ، زمین ، دکان موترو...را انجام داده اند ..

دوه ډلې غله...

په همدغه شپه یو بله د ځوانانو ځلور کسیزه ډله هم په دریم مکروریان کې نیول شوې ده

دنهمي حوزې جنایي آمر سمونوال زلمي پژواک خبري آژانس ته ویلي چې دغه ماشو مان یې تهر ماښام په دریم مکروریان کې په داسې حال کې ونیول چې دیوه ډاکټر کورته دغلا په نیت تللي وو .

په دغه ډله کې ۱۰ ، ۱۲ او دیارلس کلن ماشو مان شامل وو .

له دغه کسانو سره چې ترنن سهاره په نومورې حوزه کې دپولیسو په قید کې وو ۱۲ زره نغدې افغاني ، دفلمبرداري ډیجیتال کمره ، عادي کمره ، انتنیک آس(مجسمه)، ګنې ډول ښځینه زیورات او دموبایل سیټونه وو.

دولس کلن امین چې په خیرن ځان یې خیرن کالي اغوستي او په پښو یې زاړه کرمچ بوټان وو ، په کړې غلا اعتراف وکړ او ویې ویل :« یک نفر ما دروازه راتک تک میکرد اگر کس نمی آمد قلف دروازه رابا چکش میده میکردیم وداخل میشدیم . »

لس کلن جنت هم دخپل ملګري خبرې ته سر خو ځاوه او تائیدوله یې هغه دا هم وویل چې ځوورځې وړاندې له دغې ډلې سره یو ځای شوی دی. خو نورو ځرګندونو ته یې زړه نه کړ.

دنهمي حوزې جنایي آمر ، دماشو مانو دغه ډله یو خطرناکه ډله وبلله دهغه په وینا دغې ډلې دپولیسو دوه حوزې په تشویش کې اچولې وې.

هغه داهم وویل چې ددوی له نیولو وروسته څو کورنی ورته را غلي او دغلا دعوې یې پرې وکړې.

دتورنو غلو ځوانانو ډلې نوي پطلونونه پرتن وو ، پیچکش او پلاسونه او له یو ه سره یې نا چله پنځه سو یز لوټ هم و.

دپولیسو په وینا پر دوی دموټرو دغلاګانو او دشپې له خوا دنا چلو پیسو د چلولو شک هم دی.

دفرهاد په نوم یو ځوان چې په غوږ کې یې کړۍ هم وه، ویل یې چې تر دولسم ټولګي یې ښونځی هم لوستی دی.

خو هغه دپولیسو له خوا وارد شوي تورونه رد کړل او ځان یې بې ګناه وباله.

افتاب در تبعید...

که هدف او از انتشار هفته نامه آفتاب در کابل، "مبارزه با استعمار و استبداد" بوده است" و آفتاب در تبعید هم، به این سیاست ادامه خواهد داد.

میرحسین مهدوی را، در انتشار هفته نامه آفتاب در تبعید، که در آمریکایی شمالی و اروپا منتشر می شود، شماری از نویسندگان افغان مقیم در خارج کشور کمک می کنند.این هفته نامه، در انترنت هم منتشر می شود.هفته نامه آفتاب، در تابستان سال ۲۰۰۳ میلادی ، به دنبال چاپ مقالاتی با عنوان "فاشیسم مقدس" و "دین+حکومت= استبداد"، توقیف شد و مدیرمسئول و سردبیر آن بازداشت شدند.

علت توقیف این هفته نامه، انتشار مطالبی عنوان شده بود که مقامات آن را کفر آمیز قلمداد کردند.

مدیر مسئول هفته نامه آفتاب و سردبیر ایرانی آن، علی پیام سیستانی، توانستند اندکی پس از رهایی از بازداشت موقت در کابل، به کشورهای کانادا و ناروی پناهنده شوند.

کاپښی د ریل ګاډي...

د فوایدعامي د چارواکوپرویسنا، دوي په طرحه کې د ریل پټلي لپاره سیمې هم په نښه کړي چې په هغه کې له چمن څخه تر سپین بولدک او بیاتر کندهاره ۱۱۳ کیلومتره ، له طورخم څخه تر جلال آباد ، د ایران له پولې هغوالې سیمې څخه تر هرات پورې ۱۲۵ کیلومتره او له حیرتانو څخه تر مزارشریف پورې ۵۷ کیلومتره پټلي شاملې دي.

دفواید عامې وزارت مرستیال ډاکټر ولي محمد رسولي پژواک خبري آژانس ته وویل چې اوس وخت رارسېدلی چې دنوي ترانسپورت په ساختماني کړنلاره له سره غور وکړي

نومورې زیاته کړه: «باید جستجو شود که یک وسیله سریع السیر و ارزان که حفظ و مراقبت آن حدود بیشتر را تقاضا نکند، ایجاد شود. »

دیادولو وړ ده چې په سرکونو باندې د موټرو د پښو په پرتله د اورګاډي پښې کمې وي

نومورې داورګاډي پټلي جوړول دستر لګښت کار وباله خو د لګښت په اړه یې پوره مالومات ورنه کړل.

د اقتصاد وزارت مرستیال پوهاند دوکتور نظیراحمد شهیدی د ریل پټلي د کار بشپړ تیا ستونزمنه خبره وبلله ، هغه زیاته کړه: «این یک موضوع طویل المدت است که باید مطالعه شود . »

د مالیې وزارت د نشراتو رئیس عزیز شمس دغه طرحه نوې وبلله او زیاته یې کړه چې د افغانستان پاکستان او د افغانستان ایران په اقتصادي کمیسیونونو کې هم دغه خبره یاده شوې

خو نومورې پژواک آژانس ته وویل: « به صورت مشخص که چه مقدار کمک به این پروژه در وزارت مالیه داده شود کدام فیصله نه کرده و هم در بودیجه سال ۱۳۸۴ پول برایش پیش بینی نشده . »

د هغه پرویسنا د افغانستان لپاره د ریل پټلي یو ځانګړی اهمیت لري او د مالونو وړل راوړل به په کمه بیه ترسره کیږي

په افغانستان کې د ریل ګاډي د پټلي غزول نوې خبره نه ده بلکې نړدې یو پیړۍ وړاندې دامان الله خان دواکمنۍ پرمهال په کابل کې له پل باغ عمومي څخه تر دارلامان مانۍ پورې یو وړه پټلي غځیدلې وه.

په دغه اورګاډي کې خلکو له ښارنه تر نومورې سیمې دهغه وخت په یوه پیسه تګ راتګ کاوه.

دېرش کاله وړاندې دسردار داود خان دواکمنۍ پرمهال هم د اورګاډي دپټلي غځولو طرحه رامنځ ته شوه.

په دغه طرحه کې له کابل څخه ترکندهاره ، بیاتر هرات او اسلام کلا پورې دغه پروژه (خط آهن افغاني) نومبده.

هغه مهال ددغې پروژې اقتصادي ځېړنه او نورې تخنیکي چارې یې د ایران دولت له خوا پر مخ تللې خو د پروژې له اعلان څخه وروسته د فرانسې د سوپرریل کمپنۍ د قرارداد ګټونکې بلل شوې وه.

خو جګړو دغه پروژه سرته رسولو ته پرینښوده.

مساعدت بسکیت...

عبدالله عبادي مسؤول دفتر اطلاعات پروګرام غذایي جهان ، به آژانس خبري پژواک ګفته است که این کمک هابه ۱،۲ میلیون شاګرد صنوف ابتدایي مکاتب کشور خواهد رسید.به عقیده موصوف توزیع این بسکیت ها، براي جذب شاګردان اناث و ذکور نقش مهمي را ایفا نموده و همچنان در رشد وتوانایي ذهني و تغذي چنین اطفال ، فوق العاده موثر میباشد.

وي ګفت که بدین مناسبت ، نیرنجن ګواسوامي، هنر مند مشهور کشور هند هنر پانتومیم (نمایش بدون صوت باماسک) را همراه با اطفال افغان به نمایش خواهد ګذاشت .

کشور هندوستان دربخش هاي مختلف مانند ترانسپورت ، صحت و ... نیز چندین بار به افغانستان مساعدت نموده است .

ناګفته نماند سال ګذشته مقادیر بیشر این بسکیتها بجای توزیع به شاګردان مکاتب دربازارها بطور چشمګیری بفروش رسانیده شده بود.

تخریبی لاسونه...

چې دهیواد په بیلابیلو ولایتونو او په تیره بیا په ننګرهار کې دتیرې چارشنبې دورځې له خشونت څخه ډکه مظاهره چې ددولتي ادارو خیریه موسسو په سوځولو وژلو او ژوبلو تمامه شوه ښه بیلګه یې بللای شو.

دعینی شاهدانو له خوا په نوموړې مظاهره کې نه یوازې دا چې دګوانتانامو په تاپو کې قرآن عظیم شان ته دسپکاوی پرخلاف داعتراض غږ پورته کیدو یوې ډلې دخیریه موسسو په ضد یو شمیر خلکو دننګرهار دملکی او پوځی لوړ پوړو چارواکو په ضد شعارونه ورکول عملاً یې دتېلو او ګازو په راوړلو سره ددولتي ادارو او خیریه موسسو او اسنادو دسوځولو او دغه راز داطلاعاتو او کلتور دکتابخانې دسوځولو لپاره یوه پلان شوې تخریبی مظاهره تر یوې اندازې بری ته ورسوله.

له نوموړې مظاهرې څخه چې له زورزیاتی سره ملګری وه داسې ثابته شوه چې لاتر اوسه پورې زمونږ خوانانو او په تیره محصلینو دخپل وطن او خلکو په وړاندې خپل تاریخی مسوولیت په سمه توګه نه دی درک کړی تخریبی او هدف لرونکو اشخاصو وکړی شول چې اداري. کتابونه او اسناد له منځه یوسي. او مظاهره په خپله ګټه وڅرخوی.

مونږ دهیواد په دې شرایطو کې تر هر څه زیات په خوانانو باندې دهیواد دجوړولو تکیه لرو چې باید تخریبی عناصر له هر راز توطیو او دسیسو او تبلیغاتو سره سره ونشي کړای چې زمونږ خوانان د تخریبی فعالیتونو لپاره وهڅوی او دخان په ګټه یې وڅرخوی.

اوس چې دا ډول تخریبی فعالیتونه رامنځته شول اوپه لس ګونو قرآن مجیدونه او نایابه تفسیرونه دنورو ازربایتانکو کتابونو سره داور خوراك شول ددولت دامنیتی خواکونودنده چې داسې مخرب عناصر دخپلو دغو اعمالو له املې دقانون په چوکاټ کې په خپلو سزاګانو ورسوی.

او دهیواد والو هیله له خوانانو او محصلینو څخه داده چې له دې وړوسته دقانون په چوکاټ کې خپلې غوښتنې وړاندې کړی د خشونت او ورانی په خاطر ددښمنانو لاس شریک نه کړی. بلکې درد خوابونه ورکړی شي.

د یعقوبیو ولسوالی...

د خوست د امنیې قوماندان مل پاسوال محمد ایوب ووویل چې په نومورې برید کې چاته ته مرګ ژوبله نه ده اوښتې

نومورې که څه هم برید کونکي په ګوته نه کړل خو زیاته یې کړه «کیدای شي چې د طالبانو پاتې شونې په دغه برید کې لاس ولري» ایوب دا هم وویل چې دوی له خوست ښار څخه سیمې ته اتیا تنه سرتیري لیږلي خو تر اوسه یې پښه کې دلاس لرلو په تور څوک نه دي نیولي. د یعقوبیو ولسوالي اوسیدونکی دپرش کلن سیف الله چې دپښې پر سبا خوست ښار ته راغلي و وویل: «مور په نیمه شپه کې ډیرې ډزې اوریدې او ما د ولسوالي سوځېدلې دفتر په خپلو سترګو لیدلی»

نوموړي داهم ووې چې د ولسوالي ودانی ته څېرمه پنځلس راکټونه لګیدلي دي ،د خوست امنیې قوماندان د راکټونو د لګیدو خبره ومنله . خو د راکټونو د شمېر په اړه یې څه و نه ویل.

یعقوبی د خوست ښار شمال ختیز لوري ته کابو ۲۸ کیلو مټره لرې پرته ده ، دغه ولسوالي د پاکستان له کورمې ایجنسۍ سره نږدې موقعیت لري ، دغلته پخوا هم څو ځلې شکمنو طالبانو پر دولتي پوستو بریدونه کړي دي پژواک

عایدسالانه وزارت مخابرات ...

شرکت هاي خصوصي موبایل افغان بي سیم ، روشن وشرکت هاي انترنتي از مجموعه عواید سالانه خود ده فیصد پول را به دولت مي پردازند که عواید پرداخت شده سال گذشته از جمله همین ده فیصد مي باشد .اما شرکت هاي خصوصي مذکور حاضر به افشاء عواید سالانه شان از مدرک سرمایه گذاري در عرصه مخابرات نمي باشند

وزارت مخابرات چندي قبل اعلام نمود که تا اخیر سال۱۳۸۴ براي دو شرکت تلفون موبایل دیگر در پهلوي افغان بي سیم و روشن جواز فعالیت مي دهد.سنګین در مورد ګفت : ((پیشرفت هایرا که در عرصه سکتور خصوصي مخابرات دیدیم جرئت کردیم تا دو شرکت دیگر را جواز فعالیت بدهیم.))به ګفته سنګین، شرکت هاي روشن ، افغان بي سیم ، افغان تیلیکام وچند شرکت انترنت ۳۰۰ میلون دالر امریکایي در عرصه مخابرات سرمایه ګذاري نموده اند .

حمید قادري رئیس عامل اتاق هاي تجارت بین المللي افغانستان که در این کنفرانس اشتراک داشت ګفت که سکتور خصوصي مخابرات افغانستان در چند ماه اخیر پیشرفت خوبي نموده است

وي هدف از این کنفرانس را قدر داني از وزارت مخابرات و تشویق وزارت خانه هاي دیگر به سرمایه ګذار ي در عرصه هاي مربوط شان خواند. در کنفرانس رقابت آزاد در بخش مخابرات ، نماینده ګان وزارت خانه هاي مالیه ، تجارت ، ترانسپورت ، معاون بخش اقتصادي سفارت امریکا مقیم کابل، نمایندګان سکتور خصوصي ویک تعداد دیګر از مهمانان خارجي اشتراک نموده بودند .

ارادہ
هیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : ظهور افغان
معاون : سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین:صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com